# تلین د باچاخان او پوهنتون د باچاخان

## د زمان و مکان اهمیت

خان زمان کاکړ

باچاخان پوهنتون د باچاخان د اته ویشتم تلین په مناسبت د امن مشاعرې انتظام کړے وو، د مشاعرې تر پیل کېدلو لږ ساعت وړاندې دښمن پوهنتون په وینو کښې ډوب کړ، پوهنتون کوم نالوستي یا په اصطلاح د منځنیو پېړیو چا په وینو ګلګون نه کړ، دا کار د ډېر منظم او ماډرن دښمن وو، دا ددې ورځې او دې ځاے په ارزښت خبر ځوک وو، د یو ماډرن سټېټ دفاعي شتمنیو ته په هیڅ لحاظ هم د منځنیو پېړیو خلک نه شو وئیلے.

پر باچاخان پوهنتون د برید په پېغام او مرام د پوهېدلو دپاره یوې ډېرې مهمې تاریخي حوالې ته د اشارې کولو ضرورت دے، چونکې دا برید د باچاخان د اته ویشتم تلین په ورځ وشو، پوره اته ویشت کاله وړاندې چې کله د باچاخان جنازه جلال آباد ته رسېدلې وه نو په جنازه کښې بمي چاودنې د هم دې مقصد د تر سره کولو دپاره شوې وې کوم مقصد چې یې اوس پر باچاخان پوهنتون د برید په وخت په پام کښې وو. د باچاخان د جنازې په لړ کښې په زرګونو پښتانه په تاریخ کښې په لومړي ځل د ډیورنډ پر کرښه اوښتي وو، په جلال آباد کښې د باچاخان آخري آرام ځاے د ډیورنډ په کټاره د مات افغان وجود د بیا یو ځاے کولو دپاره افغانانو ته د خپل فخرِ افغان آخري تاریخي پېغام وو .د فخرِافغان د مقبرې د عالي پېغام د زخمي کولو او د لروبرافغان تر منځ د ځه غلط فهمیو د پېدا کولو دپاره د انګرېز استعمار ځایناستو د باچاخان په جنازه کښې بمي چاودنې وکړې خو خوشبختانه هغه وخت پښتنو د ولي خان په شان رهبر درلود، هغه قام ته هر ځه ځرګند کړل چې دا چاودنې چا وکړې او د ځه مقصد دپاره یې وکړې.

د باچاخان پوهنتون د خونړۍ پېښې د تاریخي سیاق و سباق د تراشلو دپاره په برطانوي هندوستان کښې د قصه خوانۍ، ټکر، هاتي خېلو او نورو درځنونو پېښو ته که لاړ هم نه شو نو د پاکستان د جوړېدلو یو کال لا نه ؤ پوره چې په12 م اګست 1948 کښې په هم دې چارسده کښې د بابړې پر مقام د" حکومت واړه پوځونو "پر" بې توپ او بې تفنګه "خدایي خدمتګارانو" توپې او ماشینونه "وچلول، په سلګونو خدایي خدمتګاران، ښځې او بوډاګان او قرانونه یې شهیدان کړل، دا پېښه د جناح صاحب په ژوند په پښتونخوا کښې نغیر جمهوري مسلم لیګي حکومت وکړۀ. د پاکستان په تاریخ کښې د ریاستي ترهګرۍ دا تر ټولو لومړۍ او تر ټولو لویه پېښه وه. په پاکستان کښې د ریاستي ترهګرۍ لومړنۍ او تر اوسه مهاله وروستنۍ نخښه هم دا د باچاخان تحریک دے. دا هم لوے ویاړ دے چې د بلها ډېرو هځو برسېره د ریاست او دې تحریک تر منځ د دوستۍ فضاء جوړه نه شوه ـ مسئله په اصل کښې دا ده چې د باچاخان د تحریک فطرت او نوعیت ډېر زیات ضدِ استعماري پاته شوے دے.

باچاخان او نوے استعماریت یو او بل ته له اوو لسیزو مخ په مخ دي.

په علمي مباحثو او میډیا مزاکرو کښې تر ټولو زیات غېرتاریخي دریغ دا دے چې په سیمه کښې د رواني ترهګرۍ ټوله پړه پر جنرال ضیاء الحق وراچوي چې دا د ضیاء د دور کړلے فصل دے چې تر اوسه یې موږ رېبو. دا تاریخي مغالطه د یوې لبرل ډلې په برخه ده ـ د ترهګرۍ سیاست تر ضیاء ډېر وړاندې په دې سیمه کښې پېل شوے ؤ که غېرسرکاري تاریخ په ځیر ولوستل شي نو د پښتنو په خاوره اوسنۍ ترهګري د ګندمک او ډیورنډ توافق لیکنو زېږنده ده ـ ناوړې او ناولې استعماري معاهدې چې په زور د اولسونو پر سر وتپل شي نو څه قانوني، اخلاقي او انساني جواز خو یې نه وي، دا معاهدې بیا قابض ریاستونه د جنګونو او ترهګریو په زور قایمې ساتل غواړي.

د ډیورنډ له کرښې سره یو ډېر عجیبه ډول سیاست غوټه دے. له څلوېښتو کلونو روانه ترهګري د ډیورنډ د کرښې په دواړو غاړو نسلِ پښتون تر ستوني تېروي. دېرش کاله یې د کابل د ورانۍ په تور پېښور تورناوه او له لسو کلونو د پېښور د ورانۍ په تور کابل نیول غواړي .د یو وجود، یو قام او یو پښتون په داسې چالاکي وژل، بدنامول او ګمراه کول د استعماري سیاست روزګار دی. پر باچاخان پوهنتون د برید سمدستي پس د افغانستان په طرف ګوتې اوږدې شوې ـ بې معیاره او بې مهاره میډیا دې کار ته وګومارل شوه چې د دو وروڼو تر منځ بداعتمادي او بدنیتي راپېدا کړي او هم د ترهګرۍ داخلي اساس پټ او د ترهګرۍ د مخنیوي مسوولیت د یو بهرني چا پر غاړه وراواچوي.

افغانستان به د خپل فخرِ افغان پر کور او د هغه په نوم پر نومول شوي پوهنتون یرغل کوي؟ د څه دپاره به یې کوي؟ افغانستان چې خپل دښمن ورته د لمر غونډې روښانه دے چې وس ولري ولې د خپل دښمن سیمې تر یرغل لاندې نه راولي؟ باچاخان د افغانستان ملي اتل دے، پر باچاخان د پاکستان هم دا د افغان ایجنټۍ لېبل دے، هر څه واضح او صفا دي، د باچاخان قبر یې په جلال آباد کښې ثبوت دے.

د افغانستان تر څنګ په هند پسې چې څه پر خوله ورتلل هغه یې پسې ووئېل. هند د خپل "فرنټېرګاندي "په چارسده کښې د هغه په نوم پوهنتون باندې حمله کوي؟ د پاکستان په سرکاري تاریخ کښې له لومړۍ ورځې تر ننه باچاخان ته د هند ایجنټ وئیل شوے. آخر دا څنګه هند دے چې همېشه خپل ایجنټان بربادول غواړي؟ له هند سره پر پوله پروت هندو دښمني پالونکې سیمه په ژوند او امن آباده پاته ده. دا سیمه د پنجاب سیمه چې نه یې ترهګر ورانوي، نه یې امریکا ورانوي، نه یې هند او افغانستان. په پنجاب کښې په درځنونو جهادي تنظیمونه په پنجاب کښې خورا په امن اوسي خو چې تر اټک راواوړي د جهاد تمنا یې په زړه کښې وپارېږي. د پنجاب امن و آبادي نور کوم راز پاته نه دے. د ډیورنډ د کرښې په دواړو غاړو رواني ترهګري ته که د پنجاب د امن له تناظره وکتل شي نو هیڅ فکري ستړې به پاته نه شي. د نورې دنیا د مداخلت و شراکت حقیقت پر خپل ځاے خو بې څه شک و شهبې په دې روان جنګ و ترهګري کښې یو فریق پښتون افغان او بل فریق پنجاب حاکمان دي. د

ریاست ټولې ادارې په شمول د سیاسي ګوندونو، میډیا او دانشورانو په دې جنګ کښې په یو صف کښې ولاړې دي خو بدقسمتي دا ده چې پښتون قام ددې دښمن په مقابله کښې لا په یو صف کښې د ودریدلو قابل نه دے ګرځیدلے. مونږ یقین لرو چې د ترهګرۍ مخنیوے یوازې د خلکو په سیاسي پاڅون ممکن دے. د ریاست د دعوو د پوره کیدلو په تمه ناستو اولسونو صرف د خپلو وګړو جنازې پورته کړې دي.

د 16 دسمبر 2014 م کال د پېښور د آرمي پبلک سکول د روح لړزونکې تراژیدۍ پس په خلکو کښې ډنډوره ګډه کړل شوه چې پالیسي بدله شوه، " قام "پر یوه پاڼه شو، د ښو او بدو ترهګرو فرق ختم شو، آرمي سنجیده شوه، ضربِ عضب خپل منطقي انجام ته رسیدونکے دے، د نیشنل ایکشن پلان په منظورولو د ملک ټولو سیاسي ګوندونو د ترهګرۍ خلاف یوه جامع پالیسي ورکړه چې اوس به یې ریاست زر تر زره په پوره دیانتداري سره عملي کوي. ددې ټولې ریاستي پروپیګنډې او ډنډورې خلاف د پښتنو د ځینو حساسو وګړو آواز په یو لوے شور کښې چا اوریدلے نه شو.

د آئي ایس پي آر میجر جنرل عاصم باجوه په یوه مطبوعاتي کنفرانس کښې خلکو ته زیرے ورکړ چې د ضربِ عضب په عملیاتو کښې یې د ترهګرو ملا ماته کړه خو په مردان کښې د نادرا په دفتر، د پېښور په کارخانو بازار او په باچاخان پوهنتون کښې ترهګرو داسې بریدونه وکړل چې د درځنونو پښتنو کورنیو ملاګانې یې ورماتې کړې.

په پښتونخوا کښې په استادانو او طالبعلمانو د تعلیمي ادارو د امنیت ساتلو کار د پښتنو د ماتولو او میراتولو دسیسه ده، د ښوونځي او پوهنتون ماشومانو او ځوانانو ته د میړنتوب درس ورکوونکے او هغوی د شهادت رتبې ته خېژونکے ریاست له خپل ټول مسوولیت څخه ځان مبرا کول غواړي، د باچاخان پوهنتون د وایس چانسلر ډاکټر فضل رحیم مروت، د هغه د ملګرو او د نورو پوهنتونونو د استادانو دا موقف د زیاتې ستاینې او مرستې وړ دے چې د تعلیمي ادارو سېکوریټي ساتل د استادانو کار نه دے، سیکوریټي ساتل د ریاست مسوولیت دے، ریاست دې خپل مسوولیت پخپله تر سره کړي .د مصدقه اطلاعاتو له مخې په باچاخان پوهنتون کښې د خونړۍ پېښې پر مهال تر یوې ګهنټې پورې صرف د پوهنتون خپل سیکوریټي ګارډز له ترهګرو سره وجنګیدل چې حالات دوی تر یوه حده قابو کړل نو بیا پولیس او پوځ راورسید. ریاست د تعلیمي ادارو د امنیت مسوولیت" میړنیو "ماشومانو او "وسلوالو "استادانو ته سپارل غواړي، د اې پي ایس له پېښې وروستو استادانو ته د وسلې ورکولو او د هغوی د جنګي تربیت کار پر حکومتي کچه پیل شوے وو، د هنګو هغه ماشوم طالبعلم اعتزاز حسن پښتنو ماشومانو ته د رول ماډل په توګه بیا بیا وړاندې کړل شو چا چې یو ځانمرګے په غیږ کښې نیولے، خپل ځان یې وژلے او د ښوونځي نور ماشومان یې له مرګ ژوبلې ژغورلي وو. د یوې منظمې دسیسې تحت په پښتونخوا کښې د عسکري و جهادي کلتور د غوړولو دپاره، د ریاست د "معصومیت "ثابتولو دپاره او په پښتنو کښې د رضاکارانه نفسیاتو د راپیدا کولو دپاره دا ټول څه مخ په وړاندې روان دي. دا ټول څه دومره په تېزۍ او ځلاکۍ سره مخ په وړاندې روان دي چې ډېر هوښیار

وګړي او د قام استازي سیاستوال یې هم له ځان سره همغږي او همسفر ساتلي دي .د پښتونخوا هغه تعلیمي اداري چې د باچاخان سبق لوستل نن هم پکښې متنازعه دے خو ټوپک ساتلو ته پکښې آئیني جواز حاصل دے .د پښتونخوا په تعلیمي ادارو کښې د پښتنو خپله مورنۍ ژبه پښتو نه پرېښودل کېږي خو د تشدد او جنګ ژبه پکښې په پراخه پېمانه هم وئیل کېږي او هم لوستل کېږي. د تعلیمي ادارو په نصاب، کتاب او د انتظامیې په حساب کښې یوازې د تشدد، خشونت، تعصب او منافرت ژبه روانه ده. بنیادي ستونزه په دې ځاے کښې ده. ستونزه په څو بې سرو سړیو یا کومه پاګله ډله کښې نه ده.

چونکې دا خونړے برید پر باچاخان پوهنتون، د باچاخان پر کور او د هغه د تلین په ورځ شوے نو د باچاخان ځینې تعلیمات او تګلارې دي، موږ باید یو وار بیا په ډېره سنجیدګي سره د باچاخان د ژوند، فکر، سیاست او مبارزې مطالعه وکړو، باچاخان ټول عمر د عدمِ تشدد پر اصولو ولاړ پاته شوے وو، عدمِ تشدد نن هم تر ټولو موثر سیاسي طریقه کار او پالیسي ده خو هغسې به کول وي لکه څنګه چې باچاخان قام ته خپل دښمن په ګوته کړے وو، د څرګند دښمن خلاف خلکو احتجاج کاوه، مظاهرې، هړتالونه، لیکنې، مشاعرې او عدمِ تعاون کېده. په هم دې توګه یې په ټولنه کښې د استعمار آئیني جواز ختماوه او هغه ته یې د اوسېدلو دپاره زمکه تنګوله. د عدمِ تشدد لومړۍ مرحله د ریاست او پښتنو تعلق واضح کول، په ټولنه کښې د ریاست قانوني، اخلاقي او سیاسي جواز تر پوښتنې لاندې راوستل، ددې پر بنیاد خلک منظم کول، په خلکو کښې سیاسي شعور ته وده ورکول او خلک له خپلې خاورې سره په نظریاتي توګه تړل دي. که څه هم کول وي د خلکو په زور به کول وي .هغه د چا خبره چې د خلکو زور د خداے زور وي، باچاخان به وئیل، "عدمِ تشدد د مېړنیو خلکو کار وي ". د پښتنو پر وطن چې دا کومه سخته ورځ ده په دې کښې یوازې مېړني خلک د قام سیاست کولے شي" .د قام ناتار په قام راګرځي ".

## ډېر محترم رحمت شاه سائل صاحب

سلامونه

د پښتنو د احساساتو،جذباتو او ارمانونو ترجمان ,,پښتون،، زۀ ډېر پۀ باقاعدګۍ سره ګورم. او تاسو ته دا باور درکوم چې لکه زما په شان نورې هم ډېرې تور سرې دا مجله ګوري. او د خپل درد او احساس دپاره ئې لکه د پهې او ټکور ګڼي. دا بېله خبره ده چې مونږ خپل اواز او احساسات تاسو ته نه شو رسولے. ځکه چې زمونږ په ټولنه کښې په زنانۀ ډېر بندیزونه او قدغنونه دي. خو زۀ ګڼم او په دې عقیده یم چې دا بندیزونه عارضي او مصنوعي دي او ډېر زر ختمېدونکي دي.

زما د خبرو مدعا دا ده چې که چرته ,,پښتون،، هم دغسې جاري پاتې شي. نو زمونږ د کالجونو او سکولونو جینکۍ او زمونږ خویندې به هم په مستقبل کښې د هاغه قامي شعور سره اشنا کړي د کوم قامي شعور دپاره چې باچاخان ټول عمر جدوجهد کړے دے.

البته که زمونږ ښه،ښه لیکوال او مشران هم ,,پښتون،، ته په باقاعدګۍ سره لیکونه رالېږي نو زمونږ فکر او سوچ به نور هم ښیرازه شي. زۀ تاسو او د ,,پښتون،، هرې لوستونکې خور ته ډېر احترام او سلامونه وایم.

په ډېر احترام

اسماء بي بي